بسم الله الرحمن الرحيم

# څوک چې د حق په خوا نه دي؛ د باطل ساتونکي جوړېږي

**خبر:**

د کابينې له غونډې وروسته ولسمشر اردوغان وويل: «د ترکيې د رژيم په اړه شک هغه بحث دی چې د ۱۹۲۳ اکتوبر په ۲۹مه د خلکو لخوا جمهوريت ته له هرکلي او خوشالۍ سره پای ته ورسيد. په دغه هېواد کې هېڅوک له جمهوريت او د ترکيې له بنسټګر سره ستونزه نه لري.» (خبري اژانسونه، ۲۰۲۴م کال د جنوري ۱۶مه)

**تبصره:**

د ښو او بدو، حق او باطل، عدالت او بېعدالتۍ د يو ځای کولو هڅه شيطان ته د خدمت په څېر بې ځايه ده. په يوه بې اصوله ډيموکراټيک نظام کې، چې د سياسي ګټو لپاره هر ډول وسيله پکې مشروع ګڼل کيږي، حکام سيستم په خپله ګټه کاروي. په اوسني ډموکراټيک نظام کې حکام د خلکو ارزښتونو او اصولو ته هيڅ ارزښت نه ورکوي.

اسلام ديارلس پېړۍ نړۍ ته خدمت وکړ، ټولنه يې له تيارو څخه رڼا ته راوبلله. د سولې او امنيت ساتونکی، اسلامي حاکميت، د ۱۹۲۴م کال د مارچ په ۳مه د خاينينو او کفارو په ملګرتيا له منځه يوړل شو. پر ځای يې جمهوريت حاکم شو چې د خلکو له ارزښتونو سره په ټکر کې دی. ولسمشر اردوغان هڅه کوي چې د «ژوندی دې وي جمهوريت» په شعارونو سره خلک متقاعد کړي؛ له دې سره په خپله خوښه او شعوري توګه دومره ستر جرم کوي چې غرونه ترې وېرېږي. په الله سبحانه وتعالی او اخرت ريښتينی ايمان لرونکی بايد د دغو بشري نظامونو ملاتړ ونه کړي.

وارد شوی جمهوري رژيم چې له غرب سره د يوې معاملې او اسلام او مسلمانانو ته د زيان رسولو له لارې تپل شوی دی؛ بهرنی او د منلو وړ نه دی. که څه هم مسلمانانو د اردوغان په څېر حکام ټاکلي؛ خو د هغه داسې غلطې څرګندونې د مسلمانانو په منځ کې پلوی نه لري. هغه حکام او مشران چې د حقيقت ملاتړ نه کوي؛ د باطلو رژيمونو ساتونکوي دي. د پيړۍ د ظلمونو اوږده دوره ابدي نه ده؛ بلکې د خلافت په بيا راتلو سره به د ظلم لمن ورټوله شي. خلافت يوه ديني او عقلي اړتيا ده. د دغو ظلمونو لمن به څنګه په داسې حال کې ورټوله

شي چې حاکمیت د الله –د ځمکې او اسمانونو خالق- د قانون پر ځای د انسانانو په لاس جوړو قوانینو ته ورکړل شوی دی؟

په اسلامي نړۍ کې له یوې پېړۍ راهیسې پلې شوي کاغذي نظامونه د مسلمانانو د ژوند، عزت او دین د ساتنې لپاره نه دي؛ بلکې د هغو کافرو رژیمونو د هژموني او قدرت د ساتنې لپاره دي چې دا رژیمونه یې راباندې تحمیل کړي؛ د غزې په پېښو کې دا خبره ښه لکه لمر واضح شوه. اې اردوغانه! تا په کلونو کلونو د فلسطین له مسلې څخه د رایو ټولولو لپاره ناوړه ګټه واخیسته. نن ورځ، سره له دې چې امکانات لرې؛ د دغو ظلمونو لیدل زغملی شې. سره له دې ته غواړې د بریتانوي ګوډاګیانو لخوا رامنځته شویو شیطاني رژیمونو په اړه بحث بند کړې! د غزې قضیې وښودله چې د اوسنیو رژیمونو پرځای ژر تر ژره د خلافت تاسیس ته څومره اړتیا ده!

موږ به تر هغه د ټولو بشري نظامونو دروغ، دوکه او دوه‌مخي په هرځای کې افشا کوو؛ چې څو د الله سبحانه وتعالی د احکامو پلي کولو لپاره خلافت نه وي تاسیس شوی. موږ به پر مسلمانانو غږ کوو چې هغه حللارې رد کړې چې له اسلامي عقیدې سره په ټکر کې دي؛ تر دې چې الله سبحانه و تعالی له خپل امر سره سم د اسلام د حاکمولو او ریښتیني حللارې لپاره نصرت راکړي. دا ټول بحثونه به انشاالله د نبوت پر منهج راشده خلافت له تاسیس سره پای ته ورسېږي.

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## احمد ساپا

## ۱۴۴۵هـ.ق کال د رجب ۱٦مه

## ۲۰۲۴م کال د جنوری ۲۸مه